# افغانستان

## د ۲۰۱۲ کال شپږ میاشتنی راپور
## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

## د راپور لنډیز او سپارښتنی

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندویه پلاوی

دبشری حقونو لپاره دمګرو ملتونوعالی کمیشنری دفتر

**کابل – افغانستان**

**جولای ۲۰۱۲**

## لنډیز

*زما مېرمنه، زموږ څلور ماشومان، زما د ورور مېرمنه او د هغې دوه ماشومان د ولسوالی د دفتر مخته په تمه وو ترڅو د تابعیت تذکره واخلو. له خپلې میرمنې څخه مې وغوښتل چې دروازې ته لنډه پاته شي او زه دفتر ته د ننه لاړم چې وګورم د احصایې مامورین کار ته راغلي دي. د یوې زورورې چاودنې غږ مې واورېد او بیرته مې د دروازې خواته منډه کړه. خلک مې ولیدل چې په وینو کې پر ځمکه پراته وو. ما ولیدل چې زما یوه لور وژل شوې او زما دوه نورې لوڼې او مور یې ټپیانې دي. پولیسو مرسته وکړه چې زما لوڼې او مېرمنه په موټر کې واچوم او روغتون ته یې ورسوم.*

(یوناما ورسته تأید کړه چې د شاهد بله لور ورسته په روغتون کې د خپلو ټپونو له کبله مړه شوه).[1]

- د دوو نجونو پلار د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو په چاودنه کې چې د ګذرې ولسوالی د ولسوال په دفتر کې رامنځته شوه ووژل شو. په دغه چاودنه کې ټول ۱۳ ملکیان ووژل شول او ۵۷ نور ټپیان شول. د هرات ولایت، ۱۰ اپریل ۲۰۱۲.

د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې وسله والې جګړې په افغانستان کې د ملکي وګړو په ژوند زیاتې غمجنې اغیزې پرې ایښې دي. د ۲۰۱۲ کال د جنورې له اولې بیا د جون تر ۳۰ پورې وسله والې تاوتریخوالي ۱۱۴۵ ملکیان وژلي او ۱۹۵۴ نور یې ټپیان کړي دي چې د ۲۰۱۱ کال د همدی مودې په پرتله ۱۵ سلنه کموالي څرګندوي. د ۲۰۱۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما ۳۶۵۴ (۱۵۱۰ ملکیان وژل شوي او ۲۱۴۴ نور ټپیان شوي) ملکي مرګ ژوبله ثبت کړی وه.[2] د ملکي وګړود مرګ ژوبلې دغه کمښت د پنځو کلونو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې تدریجي ډیرښت په معکوس ډول ښیي. په هر حال، یوناما اندېښنه څرګندوي چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله د ۲۰۱۰ کال په پرتله اوس هم په لوړه کچه ده. په ۲۰۱۰ کال کې یوناما ۳۲۶۸ (۱۲۷۱ملکي کسان وژل شوي او ۱۹۹۷ملکي کسان ټپیان شوي وو)ملکي مرګ ژوبله ثبت کړې وه.

یوناما د ۲۰۱۲ کال د جنورې له لومړۍ بیا د جون تر دیرشمې پورې ټولټال د ۹۲۵ ښځو او ماشومانو وژنه او ټپي کیدنه ثبت کړې ده، چې د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۳۰ سلنه تشکیلوي.[3] د ښځو او ماشومانو مرګ ژوبله د ۲۰۱۱ کال د لومړۍ نیمایي په نسبت یو سلنه زیاتوالی موندلی دی.[4] ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د ځمکنیو عملیاتو تر څنګ په جګړه کې د ښځو او ماشومانو د مرګ لومړنی سبب بلل شوی دی.

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالی کمیشنرۍ د ۲۰۱۲ کال د جون تر دیرشمې پورې د جګړې له کبله ټولټال د نږدې ۱۱۴۹۰۰ کسانو بې ځایه کیدل په افغانستان کې ثبت کړي دي چې د دې جملې څخه ۱۷۰۷۹ کسان په ۲۰۱۲ کال کې بې ځایه شوي دي. د تېر کال د همدې مودې په نسبت په ۲۰۱۲ کال کې د جګړې له کبله د بې ځایه شویو کسانو شمېر ۱۴ سلنه زیات شوي دي.

---

[1] د یوناما سره مرکه، د هرات روغتون، د هرات ولایت، ۱۱ اپریل ۲۰۱۲

[2] د ۲۰۱۱ کال د لومړیو شپږو میاشتو د مړینې شمره (۱۴۶۲) د غازی اباد د پینبی ۴۸ تنه مړی نه رانغاړی چې د ۲۰۱۱کال د فبرورې په ۱۷ د کنړ ولایت په غازي اباد ولسولی کې د هوایي بمبارۍ له امله رامنځته شوه. د هوایي بمبارۍ برخه وګورئ.

[3] یوناما د ۵۷۸ ملکي مرګ ژوبله ثبت کړې ده چې ماشومان وو (۲۳۱ ماشومانو وژني او ۳۴۷ نورو ټپي کیدنه) او ۳۴۷ ښځو مرګ ژوبله ثبت کړې ده (۱۱۸ ښځو وژني او ۲۲۹ نورو ټپي کیدنه).

[4] د ۲۰۱۱ کال د جولای او ډیسمبر په منځ کې د ۱۱۳۹ ښځو او ماشومانو مرګ ژوبله په دغه موده کې د ټولټال ملکي مرګ ژوبلې ۲۹ سلنه تشکیلوي.

د ملکي مرګ ژوبلي ۸۰ سلنه د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي، ۱۰ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوبیږي او یوناما ونشواي کولاي چي د پاتي ۱۰ سلنه مرګ ژوبلي پېښنو مسؤلیت په جګړه کي کوم لوری ته منسوب کړي.

له ۲۰۱۰ کال څخه بیا تر ۲۰۱۲ کال پوری (له جنوری څخه بیا تر جون پوری ——————
د کال لومړی شپږ میاشتي) د ملکي خلکو وژني د کلونو په اساس




یوناما د جګړي په ښکیلو خواو غږ کوي چي په پوره توګه خپل حقوقي تعهدات پرځای کړي تر څو ملکي مرګ ژوبله کمه او ملکي ټولني له زیان څخه خوندي شي. یوناما د دولت ضد عناصرو له لوري د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارونه محکوموي او غوښتنه کوي چي بی تبعیضه تاکتیکنو لکه د ځای پر ځای شوي چاودیدنکو توکو ــ د فشار له امله چاودنه کوي ــ کارونه ژر تر ژره ودرول شي. همدارنګه یوناما د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي چي ژر تر ژره هدفی وژني ودروي.

سره لدې چي نړیوالی ټولنی په پراخه توګه تعهد ښکاره کړی او په تیره لسیزه کي زیات پرمختګ شوی خو د افغانستان خوځښت د سولی او ثبات په لوري نا مکمل دی. یوناما د افغانستان په دولت غږ کوي چي د ناټو/ایساف او نړیوالی ټولنی په مرسته هڅه وکړی ترڅو افغان ملی ځواکونه په موثره توګه ورزل شي، تجهیز او ملاتړ یي وشي تر څو په موثره توګه د جګړي له زیانونو څخه د ملکیانو ساتنه وکړي. او همدارنګه دا توان ولري چي په موثره توګه له تاوتریخوالی څخه مخنیوی وکړي او د وسلوالي جګړي پوري تړلو ګواښونو په وړاندی ټولنه وساتی. نور لازم تدابیر باید ترسره شي تر څو له ملکي خلکو، ټولنو او اساسی بشری حقونوڅخه ساتنه وشي. دغه ریپوټ تر نشر مخته د افغانستان له حکومت سره شریک شو او هغوی خپله ژمنه تکرار کړه چي د جګړې له زیانونو څخه به د ملکیانو ساتنه کوي.




## د دولت ضد عناصر او د ملکي خلکو ساتنه

د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو میاشتو کې ۸۰ سلنه ملکي مرګ ژوبله د دولت ضد عناصرته منسوب شوي چې ۸۸۲ ملکي کسان يې وژلي او ۱۵۹۳ نور يې ټپيان کړي دي. دا د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله د دولت ضد عناصرو ته د منسوب شويو ملکي مرګ ژوبلې ۱۵ سلنه کمښت ښيي.[5] د ۲۰۱۱ کال په همدغه موده کې یوناما د ۱۱۶۷ ملکي خلکو وژنه او ۱۷۶۰ نورو ټپي کیدنه ثبت کړي وو. یوناما یو ځل بیا د بې تبعیضه تاکتیکونو په اړه خپله اندیښنه په ډاګه کوي چې د دولت ضد عناصر کار ترې اخلي.

ځای پر ځای شوي چاودیدنکې توکي د ملکي کسانو لپاره د یو ستر ګواښ په توګه پاته شوي دي . د دولت ضد عناصر د ځای پر ځای شویو چاودیدنکو  توکو بې تبعیضه او غیرې قانوني کارونې ته ادامه ورکوي. د ۲۰۱۲ کال د جنوري د میاشتې د لومړی نیټې څخه بیا د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې ځای پر ځای شوو چاودیدنکو توکو د ۳۳ سلنه ملکي وګړو مرګ ژوبله پیښه کړې ده چې ۳۲۷ تنه ملکیان يې وژلي او ۶۸۹ نور يې ټپيان کړي دي. د هغو تاکتیکونو په پام کې لرلو سره چې ځای پر ځای شوي چاودیدنکې توکې پکښې کارېږي لکه ځانمرګي او پیچلي بریدونه،[6] د ځای پر ځای شوي چاودیدنکو توکو تاکتیکونو ټولټال ۵۳ سلنه ملکي مرګ ژوبله د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې رامنځته کړې ده. ملکي مرګ ژوبله په اکثره مواردو کې چې د ځای پر ځای شویو چاودیدنکو توکو له امله رامنځته شوي یوناما مشاهده کړې چې ځای پر ځای شوي چاودیدنکې توکي د کوم خاص نظامي هدف لپاره ندي کارول شوي. د بیلګې په ډول د ځای پر ځای شویو چاودیدنکو توکو ځای پر ځای کول په هغو سړکونو باندې چې په منظم ډول د ملکیانو لخوا کارېږي دا په ډاګه کوي چې د چاودیدنکو توکو تاثیرت کیدایشي محدود پاته نشي او یا هم هدف په هغه شان په نښه نشي چې د بشر پالنې نړیوال قانون يې غوښتنه کوي. د افغانستان د قوانینو په رڼا کې  د ځای پر ځای شویو چاودیدنکو توکو کارونه د

---

[5] څلورویشت سلنه کمښت د ملکي خلکو په مړینه کې او نهه سلنه کمښت د ملکي خلکو په ژوبله کې

[6] یونما پیچلی حملي داسې تعریفوي- هغه حملي دي په قصدي او همغږي توګه ترسره کیږي چې په هغه کې په ځان پوري تړلی ځای پر ځای شوې چاودیدنکی توکی او په موټر کې ځای پر ځای شوې چاودیدنکو توکي شامل وي او تر یو نه ډیر حمله کوونکی او تر یو نه ډیر چاودیدونکی توکی پکی کاریږي. دغه دری عناصر باید وجود ولري ترڅو یو حمله پیچلی حمله وبولو.

دولت ضد عناصرو له لوری همیشه یو جرمی عمل دی او د ۲۰۱۲ کال کي د ځای پر ځای شویو چاودیدنکو توکو زیاتي پیښي چي ملکي مرګ ژوبله یي رامنځته کړي دي جنګی جرمونه بلل کیداېشي.

د دولت ضد عناصرو له لوري د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کي د ملکي کسانو په هدفی وژنو کي چي د دولت ضد عناصرو لخوا ترسره کېږي ۵۳ سلنه زیات والي راغلي دی. د ۲۰۱۲ کال د جنوري د لومړی نیټی څخه بیا د جون د میاشتی تر ۳۰ نیټی پوری د ۲۳۷ هدفی پیښو په نتیجه کي ۲۵۵ ملکیان وژل شوي او ۱۰۱ نور ژوبل شوي دي. د ۲۰۱۱ کال په همدی موده کي ۱۹۰ ملکي کسان وژل شوي وو او ۴۳ نور يي ژوبل شوي وو. د دولت ضد عناصر و قومي مشران، حکومتی چارواکي او ملکي کسان چي د نړیوالو سره ملاتړي دي او یا هم ورباندي د ملاتړ ګومان شوي ده په دوامداره توګه په نښه کړي دي. دغه عملونه د بشر پالنی د نړیوالو دودیزو قواعدو څخه تیری بلل کیږي چي په هغه کي په سریح ډول راغلی چې په ملکیانو باندی باید په نیغه توګه بریدونه ونشي.[7]

له ۲۰۱۰ کال څخه بیا تر ۲۰۱۲ کال پوری (له جنوری څخه بیا تر جون پوری ———— د کال لومړی شپږ میاشتي) د ملکي خلکو وژنه د تاکتیکونو په اساس




## د تولني له نظره: بشري حقونه په هغو سیمو کې چې د دولت ضد عناصرو لخوا کنترولیږي

یوناما په افغانستان کې د ۹۹ جنګ ځپلو او لیرو پرتو ولسوالیو[8] له تولنو سره سلامشوري وکړي ترڅو د دوی نظرونه د دولت ضد عناصرو د نفوذ په اړه واخلي او تاثیرات يي د بشری حقونو د ساتنی لپاره و ارزوي. یوناما یو لاس بیانونه ترلاسه کړل چې د حکومت محدود واک په دغو سیمو کې د دولت ضد عناصر پدی قادر کړي دي ترڅو له بشری حقونو

[7] اوله قاعده: د جګړمارو او ملکیانو تر منځ جلاوالی. د بشر پالنی نړیوال دودیز قواعد، اول ټوک، اوله قاعده. جان ماریا هینکرت او لویس ډوسواک بک، آی سی آر سی، کمبریج ۲۰۰۵.

[8] د ۹۹ ولسوالیو له جملي څخه چي د یوناما لخوا کتل شوي دي یولس ولسوالۍ د انتقال په اوله او دوهمه مرحله (په ترتیب سره جولای ۲۰۱۱ او نومبر ۲۰۱۱) کې افغان امنیتي ځواکونو ته سپارل شوي دي، چې د ټولو کتل شویو ولسولیو ۱۱ سلنه ښیي.

څخه تیری وکړي او له جزا څخه په معافیت کې ژوند تیر کړي. د بشری حقونو په دغو تیریو کې وژني، د وجود د یوه غړی پریکونه، تښتونه او وهل ټکول راځی چې د بشری حقونو لکه د بیان د اذادی، د خوزښت د اذادی، تعلیم ته لاسرسي او د موثره رجوع حق په لاره کې یې ممانعت رامنځته کړی دی. یوناما اندیښنه څرګندوي چې د دولت ضد عناصر په دوامداره توګه تیریو ته له معافیت سره ادامه ورکوي او دا د افغانانو د بنسټیزو بشری حقونو او د افغانستان د جزایي قوانینو څخه سرغړونه ده.

ډیرو ټولنو راپور ورکړې چې په صحي تاسیساتو او صحي مامورینو باندی د دولت ضد عناصرو له لورې په اکثره هغو سیمو کې چې د دوي له لوری په مکمل یا نسبی توګه کنترولېږي بریدونه نکیږي.

## د دولت ضد عناصرو له لوری په معارف باندی بریدونه او مداخلې

یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۳۴ پیښي مستندې کړې چې په هغو کې په تعلیمی مرکزونو، مامورینو او ذده کونکو باندی بریدونه شوي دي. په دغو بریدونو کې د ښوونځیو سوځول، د معلمینو او ذده کونکو هدفی وژنې، په تعلیمی مرکزونو باندی وسلوال بریدونه، د ښوونځیو نیونه، ګواښونه او د ښوونځیو بندول، په ځانګړي توګه د نجونو ښوونځي راځی. دغه ۳۴ ثبت شوي پیښي د تیر کال له همدی مودی سره په پرتله یو بنیادي ډیرښت ښیي. د تیر کال به همدی موده کې یوناما ۱۰ دغه شان پیښي ثبت کړې وې. له دغو ۳۴ پیښو څخه یې ۶ پیښي د معلمینو، د ښوونځیو د ساتونکو او د معارف د ریاست د کارکونکو هدفي وژني دي چې د دولت ضد عناصرو له لوری ترسره شوي دي.

یوناما په ټول افغانستان کې سلامشوری ترسره کړې تر څو دا معلومه کړی چې تر کومه بریده طالبان د معارف په سیستم کې اغیز لري. په څو سیمو کې هغو مربوطه ادارو چې یوناما ورسره سلا مشوري کړی راپور ورکړې او دایې موندلې دي چې طالبان په زیاتیدونکی ډول د معارف په سیستم باندی اغیز لري او دا کیدایشي د ماشومانو په خاصه توګه نجونو لاسرسي تعلیم ته اغیزمن کړي.

د ۲۰۱۲ کال د اپریل په شپږویشتمه طالبان په وسلواله جګړه کې د یوي ډلې[9] په توګه چې د ماشومانو د حقوقو د سختو تېریو مسؤل دي؛ د ملګرو ملتونو د سرمنشی د ۲۰۱۱ کال په نړیوال راپور[10] کې چې په وسلوالو شخړو کې د ماشومان د ساتنی په اړه خپور شو نوی لیست شول.[11] دغه راپور هغه کسان یا ډلې لیست کوي چې په وسلوالو شخړوکې په منظم دول په ښوونځیو او روغتونونو بریدونه کوي. او یا هم په وسلوالو شخړو کې په ښوونځیو او روغتونونو پوری اړونده خوندي کسانو باندي بریدونه او یا د برید ګواښونه کوي.[12]

## دولت پلوه ځواکونه او د ملکي وګړو ساتنه

یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږومیاشتو کې د دولت پلوه ځواکونو د عملیاتو په پایله کې د ۱۶۵ ملکي وګړو وژنه او ۱۳۱ نورو ټپي کیدنه ثبت کړی دي. دغه شمېرې د۲۰۱۱ کال په ورته موده کې د ملکي مرګ ژوبلې د مجموعي شمېرې په پرتله – چې یوناما د دولت پلوه ځواکونو د عملیاتو په ترڅ کې د ۲۵۵ ملکیانو وژنه او ۱۳۸ نورو ټپی کیدنه ثبت کړې وه - ۲۵ سلنه کمښت ښیي.

---

[9] د امنیت د شورای ۱۹۹۸ (۲۰۱۱) قطعنامه، S/RES/1998 (2011). دغه قطعنامه د ملګرو ملتونو له سر منشی څخه غواړي چې په وسلوالو شخړو کې د ماشومان د ساتنی د راپور په ضمیمه کې د وسلوالو شخړو هغه خواووي لیست کړی چې په منظم دول په ښوونځیو او روغتونونو بریدونه کوي. او یا هم په وسلوالو شخړو کې په ښوونځیو او روغتونونو پوری اړونده خوندي کسانو باندي بریدونه او یا د برید ګواښونه کوي.

[10] له ۷ څخه تر ۱۸ پراګراف پوری، په وسلوالو شخړو کې د ماشومانو د ساتني په اړه د ملګروملتونو د سرمنشی راپور چې له جنوری څخه بیا تر ډیسمبر ۲۰۱۱ پوری موده رانغاړی او د اپریل په ۲۶- ۲۰۱۲ کې خپور شو (A/66/782-S/2012/261)

[11] په وسلوالو شخړو کې د ماشومانو د ساتني په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشی راپور، (۲۰۰۵)، A/59695-S/2005/72 .

[12] په دغه لیست کې د طالبانو په ګډون د توری بوړی جبهه، جمعیت السنت الدعواه سلفیه او د لطیف منطور ډلي راځي.

د یوناما لخوا د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د ثبتولو د پیل راهیسې دا په ډاګه شوې، چې هوایي بریدونه د دولت پلوه ځواکونو لخوا هغه یوازنې تاکتیک دی چې ترټولو د زیاتې مرګ ژوبلې سبب ګرځي. یوناما د جنوري د میاشتې له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ مې پورې د نړیوالو نظامي ځواکونو په هوایي بریدونو کې د ۸۳ ملکیانو وژنه او د ۴۶ نورو ټپي کېدنه ثبت کړې ده. دغه شمېرې ښیي چې د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله د ملکي مرګ ژوبلې شمېره ۲۳ سلنه راټیټه شوې ده. یوناما د ۲۰۱۱ کال په ورته موده کې د هویې بریدونو په پایله کې د ۱۲۷ ملکیانو وژنه او ۴۰ نورو ټپي کیدنه ثبت کړې وه.[13] په ۲۰۱۲ کال کې د دولت پلو ځواکونو له لوری د دغه تاکتیک کارونه د نورو تاکتیکونو په پرتله نږدې څلور ځله زیات ملکیان وژلي دي . د ۲۰۱۲ کال په لومړۍ نیمایي کې د هوایي بریدونو په پایله کې د۱۲۹ ملکي مرګ ژوبلې څخه ۸۱ ښځې او ماشومان وو چې د هوایي بریدونو له کبله د ملکي مرګ ژوبلې دوه په دریمه برخه تشکیلوي.[14]
د ۲۰۱۲ په لومړۍ نیمایي کې د دولت پلوه ځواکونو د ځمکنیو نښتو په پایله کې ۲۱ ملکیان وژل شوي، چې د ۲۰۱۱ کال د لومړۍ نیمایي په پرتله – چې یوناما د ۶۶ ملکیانو وژنه ثبت کړې ده - د پام وړ کمښت ښیي.

یوناما د جنوري د میاشتې له لومړۍ نېټې څخه بیا د جون تر ۳۰ مې پورې د پلټنې او نیونې د عملیاتو په ترڅ کې چې د دولت پلوه ځواکونو له لوری تر سره شوي دي د ۲۰ ملکیانو وژنه او ۱۲ نورو ټپي کیدنه ثبت کړې ده، چې د ۲۰۱۱ کال د همدې مودې په پرتله ۲۷ سلنه کمښت ښیي، او د ۲۰۰۹، ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلونو د ورته مودو له ثبت شوي کمیدونکی بهیر سره ورته والې لري.

د افغان ملی ځواکونو او ایساف له لوري د قوې د تشدید د پېښو په نتیجه کې د ملکي خلکو مرګ ژوبله د ۲۰۱۲ کال کې هم کموالي موندلی دی. یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړۍ نیمایي کې د ۱۹ جلا جلا پیښو په ترڅ کې د ۲۵ ملکیانو مرګ ژوبله ( ۹ ملکیانو وژنه او ۱۶ نورو ټپي کیدنه) ثبت کړې ده، چې د ۲۰۱۱ کال د همدی مودی په پرتله د قوې د تشدید په پیښنو کې د ملکیانو د مرګ ژوبلی ۴۳ سلنه کمښت په ګوته کوي.

که څه هم د هوایي بریدونو په نتیجه کې د ملکیانو مرګ ژوبله کمه شوې ده خو یوناما د هوایي عملیاتو په اړه چې د ملکیانو وژنه یا ټپي کیدنه رامنځته کوي خپله اندیښنه بیا په ډاګه کوي. که څه هم په ډېرو پیښنو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله د لویو نظامي عملیاتو په بهیر کې چې د ارپکو په ضد ترسره کیږي رامنځته کیږي. خو ځیني هوایي بریدونه چې د ملکیانو مرګ ژوبله رامنځته کوي نسبت اصلی نظامي سوبې چې د دغو بریدونو په پایله کې ترلاسه کیږي تر اندازې زیات ښکاري.
د بیلګې په ډول د ۲۰۱۲ کال د جون د میاشتې په شپږمه نیټه د لوګر ولایت د برکي برک په ولسوالی کې د یوه هوایي برید په پایله کې چې د طالب قوماندانانو یو ګروپ یې په نښه کړې وو ۱۸ ملکیان ووژل شول او دوه ښځې ټپیاني شوي. په دغه برید کې اوه ښځې او نهه ماشومان د یو لس میاشتني ماشوم او پنځه پیغلو نجونو په ګډوون ووژل شول. دا یوه ځمکنی نښته وه او کله چې د دولت ضد عناصر له نظامی ځواکونو سره ونښتل نو هوایي برید غوښتنه وشوه. که څه هم هوایي برید د قوې د تشدید له اقداماتو ورسته ترسره شو خو د هوایي برید د تاثیراتو وړاندوینه باید شوې وای. یو تاکتیکی هوایي برید چې د اوسیدنی کور په نښه کوي په بالقوه توګه کیدایشی د ملکیانو غیری اختیاری وژنه او زیامن کیدل را منځته کړي چې له اصلی نظامی سوبې څخه زیات وي.

د بشرپالني نړیوال دودیز قواعد په صراحت سره بیانوي، چې په جګړه کې ښکېلې خواوې باید په برید کې ملکیانو ته د مرګ ژوبلې، مالي زیان یا دواړو د اووښتلو د احتمال د ارزونې لپاره – چې د ټاکل شویو نظامي اهدافو د لاسته راوړنو په نسبت زیات وي – ټول ممکنه کوښښونه په کار واچوي.[15]

[13]یوناما د ۲۰۱۱ کال د لومړیو شپږو میاشتو په راپور کې د هوایي بریدونو په پایله کې د ۱۱۹ ملکیانو مرګ ژوبله (۷۹ ملکیانو وژنه او ۴۰ نورو ټپی کیدنه) ثبت کړې ده. د ۲۰۱۱ کال د لومړي نمایي د ملکیانو د مرګ ژوبلي دغه نوی شمیره (۱۶۷ ملکیانو مرګ ژوبله) د کنړ ولایت د غازی اباد ولسوالی د پیښی مرګ ژوبله هم رانغاړی چې په هغه کې ۴۸ ملکیان ووژل شول او ۹ نور ټپیان شول. د ۲۰۱۱ م کال په هوایي بریدونو کې د ملکي مرګ ژوبلو په اړه د یوناما لخوا خپرې شوې شمېرې د کنړ ولایت د غازي آباد ولسوالی په هوایي برید کې ملکي وژنې د ضد او نقیصو معلوماتو له امله – چې د پر وخت تایید د مخنیوي سبب شوی - په بر کې نه نیسي (خو نهه ټپیان پکې شمېرل شوي دي).
[14] د نړیوالو نظامي ځواکونو له لوري د ۲۰۱۲ کال له جنوری څخه بیا تر جون پوری هوایي بریدونو د ۳۰ ښځو (۱۶ وژل شوي او ۱۴ نوری ټپیاني شوي دي)، او ۵۱ ماشومانو مرګ ژوبله (۳۹ ماشومان وژل شوي او ۱۲ نوری ټپیان شوي دي) رامنځته کړی ده.
[15]۱۴ قاعده، تناسب په برید کې تناسب او ۱۸ قاعده په برید کې احتیاط. د بشر پالنی نړیوال دودیز قواعد، اول ټوک، اوله قاعده. جان ماریا هینکرت او لویس ډوسواک بک، آی سی آر سی، کمبریج ۲۰۰۵.

ایساف د هوایي بریدونو په پایله کې د ملکي مرګ ژوبلې د بیا رامنځته کیدو د مخنیوي په خاطر کلک اقدامات تر سره کړي دي. د افغانستان د اوضاع په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وروستي ریپوټ کې له افغان دولت او ایساف څخه ستاینه سوې، چې د هوایي عملیاتو په شمول، په نښتو کې د ملکي مرګ ژوبلو د مخنیوي په موخه یې په دوامداره توګه له کړنلارو څخه کتنې ترسره کړي دي.[16] د لوګر د پېښې ورسته ایساف د ملکي مرګ ژوبلو د کچې د راټیټولو لپاره نور اقدامات ترسره کړي دي. د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت کې یوه نوې متممه کړنلاره (فرګو) رسمي شوه، چې د هوایي عملیاتو تاکتیکي لارښود یې تعدیل کړ. یوناما د ټولو ملکي مرګ ژوبلو د چټکې پلټنې او د جبران لپاره د مناسب اقدام ترسره کولو او د څېړنو د پایلو او ترسره شویو اقداماتو د خپرولو لپاره پر خپلو سپارښتنو تاکید کوي. یوناما له افغان ملي امنیتي ځواکونو څخه غواړي چې د ایساف په شان تاکتیکي لارښود، چې د عملیاتو په ټولو برخو کې د ملکي مرګ ژوبلو د کچې د را ټیټولو او مخنیوي پر مهمې اړتیا تاکید کوي، تعقیب کړي.

## سیمه ایز (محلي) پولیس

یوناما د جنوري د میاشتې څخه بیا د جون تر میاشتې پورې د ۵۱ ولسوالیو له حکومتي چارواکو، پولیسو، قومي مشرانو او نورو اړونده کسانو سره سلاه مشوري وکړي تر څو د دوي نظرونه د سیمه ایزو پولیسو د پروګرام د تطبیق په اړه واخلي. یوناما ګڼ بیلابیل نظرونه ترلاسه کړي دي چې څنګه سیمه ایز پولیسو بشري حقونو ته درناوي او ساتنې یې کوي. ټولنو راپور ورکړې په هغو سیمو کې چې سیمه ایز پولیس شتون لري امنیتي حالت ښه شوې او د دولت ضد عناصرو شتون کم شوی دی. که څه هم اړونده اداري دغه امنیتی لاسته راوړنو ته ښه راغلاست وایې خو ځیني نور بیا په هغو مواردو چې د یوناما د تېر کال په راپور کې ذکر شوي دي تاکید کوي.[17] یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړۍ نیمایې کې د سیمېزو پولیسو په وړاندې په اوو ولایتونو کې اته شکایتونه ثبت کړي دي. یوناما په دوامداره توګه د سیمه ایزو پولیسو په ګمارنه او چاڼ کونه کې د نا همغږی، د دوي په لیکو کې د دولت ضد عناصرو نفوذ، ضعیفه او موقتی نظارت او د سیمه ایزو پولیسو د بشري حقونو د تیرو په وړاندې د حساب ورکوني د نشتون راپورنه ترلاسه کړي دي.

د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما د نورو سیمه ایزو دفاعي نوښتونو لکه د اساسي تاسیساتو د ساتنې پرواګرام (سي آي پي) چې د افغانستان په شمال او شمال ختیځو سیمو قرار لري دوام مشاهده کړی دی.

[16] د ملګروملتونو د سرمنشي راپور د افغانستان د حالت او د هغه اغیزي په نړیوالي سولي او امن باندي. عمومی اسمبله، شپږشپیتمه غونډه، د امنیت شوارى، اوشپیتم کال، د اجنډا ۳۸ فقره.A/66/855-S/2012/462, 20 June 2012

[17]، چې د ۲۰۱۲ کال په فبرورى کې خپور شوې ده وګورئ په افغانستان کې د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۱ کال کلنی راپور




## په جګړه پورې اړونده نورې پېښې

### د پولې هغې غاړې پاکستان څخه توغندیز بریدونه

یوناما د ۲۰۱۱ کال په څېر د پولې هغې غاړې پاکستان څخه د  توغندیزو بریدونو راپورنه ترلاسه کړي دي چې د افغانستان په لویدیځ کې د کنړ د ولایت په سرحدي سیمو لګېدلي دي. یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د پولې هغې غاړې توغندیزو بریدونو په پایله کې د۱۶ افغان ملکیانو مرګ ژوبله (یو ملکي وژل شوی او ۱۵ نور ټپیان شوي دي) ثبت کړې ده. د جون په میاشت کې د دغو بریدونو په پایله کې تر پنځوسو ډیرې کورنۍ له کونړ ولایت څخه او په کونړ ولایت کې  بې ځایه شویدي. له بلې خوا د دغو بریدونو په وړاندې مظاهره کې درې ښوونځي تړل شوي دي.

## *د ۲۰۱۲ کال د جنوري څخه بیا تر جون پورې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې کمښت: د پام وړ فکتورنه*

د ملکي کسانو په مرګ ژوبله کې کمښت کیدایشي بیلابیلو فکتورنو له کبله وي. ځیني فکتورنه په امنیتي حالت کې بنه والي منعکس کوي خو ځیني نور بیا دا په ګوته کوي چې د دولت ضد عناصر کیدایشي خپلې هڅې منسجم کوي  او یا په ځینو سیمو کې  کیدایشي کنټرول ترلاسه کوي.

د ملګروملتونو د امنیت څانګه (یو ان ډي ایس ایس) شننه دا په ډاګه کوي چې د دولت پلوه ځواکونو له لوري نظامي عملیات چې د دولت ضد عناصرو د قومندانانو، وسلو او تداروکاتو، مرسته کوونکو او مالي سرچینو په وړاندې ترسره کېږي د اړیکو ډلې کمزوري کړي دي. د ځینو کلیدي قومندانانو وژل چې د اړیکو د قومندۍ او کنټرول جوړښت یې مات کړی ده د دې سبب شوي دي چې د دولت پلوه ځواکونو په وړاندې حملې کمې شي.  دا د دی لامل شوی ده چې په ټوله کې د ملکي کسانو مرګ ژوبله ــــ په ځانګړې توګه د نظامي ځواکونو په وړاندې د اړیکو له لوری په پیل شوي بریدونو—— کمه شي، او همدارنګه د اړیکو او ملي اردو او ایساف تر منځ ځمکنۍ شخړې کمې شي. په دې اړه یوناما د ملکي خلکو د وژنې نږدې ۴۲ سلنه کمښت ثبت کړی دی، چې دغه کمښت د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنیو جګړوله کبله رامنځته شوی ده. سربیره پر دې د ځمکنیو عملیاتو څخه د ملکی خلکو هدفی وژنو ته تاکتیکی بدلون کیدایشي د ضعیفه تاوتریخوالی نښه وي.

د کال په لومړیو دریو میاشتو کې بې ساري سخت ژمي کیدایشي د اړیکو د خوځښت او عملیاتي قدرت مخه نیولې وي چې احتمالاً د جګړیزو تاوتریخوالو د کمیدو سبب شوی دی. بل ممکن فکتور چې د اړیکو له لوری د تاوتریخوالي د کمزوری کیدو لامل شوی دی د مسلحو ګروپونو خپلمنځی شخړې دي. دغه فکتورنه د ۲۰۱۲ کال په لومړیو څلورو میاشتو کې – په ځانګړي توګه د جګړې د پیل د موسم را هیسې – د بریدونو د کمیدو لامل شوي دي. سره لدې چې طالبانو د ۲۰۱۲ کال د مې د میاشتې په دوهمه په عامه دپسرلنیو عملیاتو د پیل کیدو خبر ورکړ او د بریدونو د ډېریدو ژمنه یې وکړه خو طالبانو دغه خوځښت چې د دوی د رهبر له لوري یې کیدایشی توقع شوي وي (په ځانګړې ډول د کابل د بریدونو په اړه) ترلاسه نکړ. د بریدونو کچه د ۲۰۱۰ کال د جون او مې له میاشتو سره د مقایسې وړ ده.

داسې ښکاري چې د دولت ضد عناصر خپل بریدونه په افغان ملي امنیتی ځواکونو په ځانګړې توګه افغان ملي پولیسو باندې متمرکز کړي دي. د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږ ومیاشتو کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په وړاندې د بریدونو شمیر ( په ۲۰۱۲ کال کې ۲۳۱۱ بریدونه، او په ۲۰۱۱ کال کې ۲۳۳۵ بریدونه وو)د تیر کال د همدې مودې په پرتله نږدې یو شان پاتې شوي دي[18]. د ۲۰۱۱ کال د همدې مودې سره په پرتله د دولت ضد عناصرو بریدونه په نړیوالو نظامي ځواکونو باندې ۱۰ سلنه کم شوي دي.[19]

یوناما ملاحظه کړې دې چې د دولت ضد عناصر په هغو لیرو پرتو سیمو کې چې د حکومت شتون کم دی د ځان کلکولو قوت تر لاسه کوي، چې د پام وړ اغیزې یې په دغو ټولنو کې د بشری حقونو په ساتنه پرېښې دي.

سربېره پر دې چې د نړیوالو نظامي ځواکونو په وړاندې په بریدونو کې کمښت پخپله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د کمیدو لامل شوی دی؛ یوناما یادونه کوي چې د ملکي وګړو د مر ګ ژوبلې کمیدل همدارنګه د دولت پلوه ځواکونو په عملیاتي کړنو کې، د مشخص هدف په نښه کولو په ګډون، د باثباته ښه والي نتجه ده. په عمومي ډول، افغان ملی امنیتی ځواکونه او نړیوال نظامی ځواکونه په دوامداره توګه کار کوي تر څو ملکي مرګ ژبله کمه کړي. دغه کموالي په ځانګړي توګه د شپې مهال عملیاتو څخه د رامنځته شوې ملکي مرګ ژوبلې او د قوی د تشدید د پېښو په کمیدو کې جوتېږي. ډېرو هڅو ته اړتیا ده ترڅو د هوایي بریدونو په ترخ کې د ملکي خلکو مرګ ژوبلې څخه مخنیوی وشي.

## سپارښتنې

یوناما د ټولو ښکیلو خواوو څخه غواړي چې خپلو قانوني مکلفیتونه سره سم خپلې کړنې تنظیم کړي چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې او ټولنې ته زیان اړونی کچه راټیټه شي. یوناما غوښتنه کوي چې د دولت ضد عناصرو له لوري بې تفکیکه تاکتیکونه ،لکه د فشار په واسطې چاودیدونکی توکی او ځان وژونکی بمونه کارونه دې سملاسی ودرول شي. یوناما د افغانستان په دولت غږ کوي چې د نړیوالې ټولنې د کمک په مټ نوري ډېرې وسیلې په کار واچوي چې د شخړې سره تړلی تاوتریخوالی اغیزو څخه ملکي ټولنه وژغوری .

*یوناما د ملکي خلکو د ښه خوندیتوب په موخه لاندی سپارښتنې وړاندې کوي .*

### دولت ضد عناصرو ته

- د بشرپالنې د نړیوال قانون د اوصولو سره سم د تفکیک ، تناسب او احتیاطی تدابیر په پام کې ونیسي او د ملکي خلکو تعریف دې د بشرپالنې د نړیوال قانون سره په مطابقت کې پلی کړي .
- د نړیوالو قانون سره سم دې د ملکي خلکو هدفی وژنی ودروي او هغه فرمانونه چې د ملکي خلکو د وژنی جواز ورکوي د بیلګې په ډول ځان مرګي بریدونو کارونه دې ملغا اعلان کړي .
- د فشار په ذریعه چاودیدونکو توکو کارونه دی ژر تر ژره ودروي او د دې بی توپیره او غیر قانونی وسلو پر کارونه دې په عمومی ډول د بندیز ژمنه وکړي.

---

[18] ارقام په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د امنیت د څانګی لخوا برابر شوي دي، ۱۰ جولای ۲۰۱۲ کال

[19] کال په کال بدلون (دوهمه پاڼه). د ۲۰۱۲ کال د مي په دویشتمه خپور شوې.د ایساف میاشتنې معلومات، د اپریل ۲۰۱۲ کال پوری ارقام. د هیواد په کچه د دښمن لخوا پیل شوې بریدونه.

- د هغو موازي قضايي جوړښتونو څخه ډډه کول چې غیري قانوني سزاګانې ټاکي لکه وژني، د وجود د یوه غړي پریکونه، شل شوټ کول او وهل ډبلول.
- هغه طرزالعملونه، هدایات او لارښوونې دي په عمل کې پلی کړی چې د ملکي خلکو د وژنی څخه مخنیوی کوي او هغه افراد چې ملکي کسان د مرګ ژوبلی په موخه هدف ګرزوی ورسره حساب وشي .
- د بشری مرستو مؤسسو ته او په ځانګړی ډول څوک چې روغتیایی خدمتونه ، کلینکونه او ډاکټران د ټولنی د معالجی لپاره وړاندی کوي د پوره لاس رسي اجازه ورکړي . د واکسناسیون کمپاین د ملاتړ په موخه دي څرګنده ژمنه وکړي ترڅو د واکسین ټیمونه وکړای شي چې د واکسناسیون خوندی کمپاین په ټول افغانستان کې په بشپړ ډول تر سره کړي.

## د افغانستان دولت ته

- د قانون د واکمنۍ ادارو په ځانګړي توګه پولیس اوقضایه قوي د پیاوړتیا لپاره دي نور کوټلي ګامونه واخلی چې له مخی یې جنایي کړنو سره د دولتي د ادارو لخوا د قانون سره سم چلند وشي. په دی کې څیړني، عدلی تعقیب او د هغو کسانو په سزارسول دي چې د موازی قضایي جوړښتونو له لاری غیر قانونی سزاګانی ټاکي په ځانګړي توګه وژني او همدارنګه د بشری حقونو څخه سرغړوني او نور جنایي فعالیتونه چې د دولت ضد عناصر یی تر سره کوی.
- افغان ملی اردو دي د ایساف په څیر د ملکي کسانو د تلفاتو د کمیدو ټیم رامنځ ته کړی چې افغان امنیتی ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتو ټولي پیښی پر وخت ، شفافه او سم ډول و پلټل او ثبت شي. ترڅو د ملکي خلکو خوندی ساتنه ، د خساری جبران او د حساب ورکړه وده ومومی.
- د ټولو ماشومانو او په ځانګړي ډول دي د نجونو حقونه خوندي شي چې زده کړی ته لاس رسي ولري . داسی لاري چاري دي اختیار شي چې د ښوونځیو ودانۍ خوندي او پرانیستي وي او هم د ښوونځیو ملکي موقف خوندي وساتل شي او د نظامی فعالیتونو لپاره ونه کارول شي. د ښوونځي تدریسی نصاب کې دي د بشری حقونونواساسات منعکس شي کوم چې د افغانستان په قوانینو کي تضمین شوي او متن یی د پوهنی وزارت تأید کړی دی .
- د دی لپاره چې د بشری حقونو له سرغړونو څخه مخنیوی وشي دا ډاډ باید ترلاسه شي چې د سیمه اېزو پولیسو د نورو کارونو ترڅنګ ګمارنه، ازموینه، نظارت او حساب ورکوني میکانیزم په موثره توګه ترسره کېږی. د نړیوالو نظامي ځواکونو په ملاتړ باید د سیمه اېزو پولیسو هغو جنایتونه په وړاندي چې راپور یې ورکړل شوې قانونی کړني ترسره شي. او هرڅومره ژر چې کیدایشي د سیمه اېزي (محلي) دفاع نوری قواوي لغوه شي.

## نړیوال نظامي ځواکونه

- په دوامداره توګه د تاکتیکي لارښودنو او عملیاتي پروسیجرونو په ځانګړي توګه هغه تاکتیکي لارښودنې چې هوایي بریدونه تنظمیوي بیا کتنه تر سره کړي ترڅو د ملکي خلکو له غېړی اختیاري مرګ ژوبلي او ملکي شیانو ته د زیان اړولو نور مخنیوي وشي، او د جګړې ملکی قربانیانو ته تاوان ورکړي . د عملیاتو ورسته باید د افغان حکومت سره په همکاریَ د هغو عملیاتو چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلي لامل شوي دي تحقیقاتو ته ادامه ورکړي.

- شفافیت او حساب ورکوني ته وده ورکول او د افغان حکومت او متاثره شویو ملکي خلکو او ټولنو سره د ښه روابطو جوړول، او په هغو پیښو کې چې د ملکي خلکو مرګ ژوبله یې را منځته کړي د ایساف د پلټنو د موندنو خپرول، انظباطي او حساب ورکوني اقدامات ترسره کول او په منظمه توګه د اوښتی زیان جبیره کول او اصلاح کول.

- د افغان ملي امنيتي ځواکونو سره کار کول تر څو د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي د کمښت، راپور ورکولو او تحليل کي د هغوي قابليت لوړه شي، او د افغان ملی امنيتي ځواکونو کې [د ملکي مرګ ژوبلي د کمولو ډله] (Civilian Casualty Mitigation Team) د رامنځته کول ملاتړ کول.
- د دې ډاډه کول چې افغان ملي امينتي ځواکونه په پوره اندازي سره منابع به لاس کې لري، مجهز او روزل شوي دي تر څو په موثره توګه د ځای پر ځای شويو چاودېدونکو توکو ضد عمليات رهبری او کنترول کړي، او ځای پر ځای شوي چاوديدونکی توکي خنثی او په کار واچوي.[20]
- د دې ډاډه کول چې افغان ملي امنيتي ځواکونو ته د تاکتيکي لارښودنو په اړه پوره روزنه ورکول کېږي او تاکتيکي لارښودونه، پروسيجرونه او غوره کړنو بيلګې چې د ملکي مرګ ژوبلي په کمولو کې موثر بلل شوې افغان ملي امنيتي ځواکونو ته سپارل کېږي.

[20] د ځای پر ځای شويو چاوديدنکو توکو په کار اچونه د هغو معلوماتو تشخيص، راټول، پروسس او خپرول دي چې د ځای پر ځای شويو چاويدنکو توکو د پيښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځای پرځای شويو چاويدنکو ضد پروسيجرونه او ميتودنه غښتلی او د اړيکو منابع کمزوری او د دوی عدلی تعقيب ملاتړ وشي. په دي کې د ځای پر ځای شويو چاوديدنکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخيصونه د تخنيکی، عدلی طب او بايومتريک ازمويني او تحيلی لپاره راځي چې د متخصيصانو له لوری تر سره کيږي. د چاوديدنکو توکو په کار اچونه د د دغو توکو ضد اقداماتو يوه اساسی برخه ده.